
دنیای افسانه

# دمینی افسانه

لیکوال :
صمد بهرنگی

ژباړونکی : احسان آرینزی

د بیهقی کتاب خپرولو موسسه
۱۳۵۷ کال

PROPERTY OF ACKU 7341

PROPERTY OF ARIC Established 1989

# سریزه

## گرانو ماشومانو:

تاسو چې خپل شا او خوا ته گورئ، د ډېر شیان وینئ: انسان، غر، ونه، کور، ښه، بد، خوښي، غم، رنگ، ودانۍ او په زرگونو نور شیان. چې ټول ستاسو له پاره په زړه پورې دي او تاسو ته د ډېرې پوښتنې در پیدا کوي. مثلاً تاسو وینئ، لکه څنگه چې غرونه او ونې یو شان نه دي، خلک هم یو شان نه دي. یو ښه دی، بل بد. یو ډېر شتمن او د پیسو خاوند او هوسا دی، بل بېوزلی او نېستمن. په ښوونځي کې یو زده کوونکی وینئ چې د لوړې بیې جامې اغوستي. ښه خواړه خوري ښه ښکلي بکسونه لري، اصیلي کتابچې او قلمونه لري، په څو پوړیزه ښکلې ښکله یا لویه کلا کې استوگن دی، موټرونه لري، مریيونه او نوکران لري، تل روغ وي، خوشاله وي او ... یو بل زده کوونکی وینئ چې جامې یې زړې دي، لوڅې پښې ښوونځي ته راځي، چای او ډوډۍ یا شرومبې او ډوډۍ خوري، کورونه لري. د خان په غوجل یا یوه بله رنگه کې اوسېږي. تل ناروغه وي، زړه یې خوړین وي او ...

نو تاسې هرومرو له ځانه پوښتنه کوئ چې ولې یو دومره نېکمرغه او هوسا دئ او بل دومره نا آرامه ـ بېوزلی او بدمرغ؟ او غواړئ چې د خپلو دغو پوښتنو له پاره سم ځوابونه پیدا کړئ.

گرانو ماشومانو ستاسو د معلوماتو د زیاتوالي او د پاسنیو پوښتنو د ځواب له پاره ځولاوې شته: کولای شئ چې د خپلو مېندو پلرونو او نورو مشرانو څخه پوښتنې وکړئ، له خپل ښوونکي نه توضیحات وغواړئ، راډیو ته غوږ ونیسئ، کتاب ولولئ او...

تاسو تل پوښتنه او ځواب په مېلگري تداره لرئ. ښه کتاب د ښه مېلگري په شان دئ، ښه کتابونه ستاسو هر راز پوښتنو ته ځوابونه درکوي.

دغه کتاب چې تاسو یې لولئ یو ښه او د لوستلو وړ کتاب دئ چې صمد اکا لیکلی او احسان اکا په خوږه پښتو ژبه ژباړلی دئ.
تاسو صمد اکا پېژنئ؟ نه یې پېژنئ؟ نو راشئ چې په گډه یې وپېژنو:

صمد بهرنگي د کلي بچی و، د خپل کلي په خاورو ـ دوړو کې د نورو ماشومانو په څېر لوی شو، کورنۍ یې ډېره بېوزلې او نېستمنه وه ښوونځی یې په ډېرو ستونزو ولوست. په ۱۸ کلنۍ کې د کلي ښوونکی شو. ۱۱ کاله یې معلمي وکړه. د معلمۍ په څنگ کې یې د کلیو د کروندگرو، شپنو او د ښار د خوارې کښې ماشومانو له پاره ښه کتابونه ولیکل، دده لیکنو اسی د خلکو په ژبه وه خو ماشومان پرې پوه شي. ده د ظلم، عدالت شتو، لوږې، ښو، بدو، خوښۍ او غم په هکله ډېر ـ ډېر څه

ایکل اود پوزلی ، ظلم اولوږې دورکولو لارې په یې ښوودلې .

پهرنګی دخوارې کښوماشومانو ښه‌ملګرې او اکا ؤ، دی په کلیوالوماشومانوهم ډېر ګران ؤ.

پهرنګی دخواروخلکوله ډلې څخه ؤ اوتولې ایکنې یې ددوی لپاره وې . دده اودنورو کلیوالوتر منځ هیڅ توپیر نه ؤ. په کور ، جومات ، دونو په سیوري اوهدیروکې به یې تولګی جوړول اوخوارې کښوماشومانو ته به یې سبق ورکاوه . ده دکلیوالو په ژوند چاروکې ګډون درلود اوډ لو ـ درمند ـ دقران عظیم الشان پهختمونو ، جومات اوودونو په غونډوکې به یې برخه اخسته .

اکا دپوزلوکروندګرواودوی دزامنوښه‌ملګری اودخانانو اوکلیوالی پانګه والو کلک دښمن ؤ . دی مخکې له دې نه‌چې دخوارې کښوښوونکی وی دخوارې کښوشاګرد ؤ. ده‌خپل داستانونه دخلکو له‌منځه تاکل اوایکل او له‌چاپ څخه مخکې به یې دکلی ماشومانو ته لوستل څو د داستان نیمګړتیاوې لیرې شي .

پهرنګی اکا دخلکو په‌قدرت ایمان درلود، دی دخپل یوه داستان دقهرمان په باب لیکی: «دکوراوغلو قدرت ، همغه دخلکو قدرت دی . همغه بې‌پایه قدرت چې دتولو قدرتونو سر چینه بلل کیږی . دکوراوغلو ستره ښیګڼه داده چې په‌دې قدرت ایمان لری

او پرهغه بې ډډه لګولی » (۱)

بهرنګی په ماشوما نو ته وېل:

« راتلونکې بې له شکه ستاسو په لاس کې ده چې ښه او بد بې هم په تاسو پورې اړه لري . تاسو هرومرو لویېږی او دخپلو نیکونو او پلرو نو ځا یونه نیسی .. تولنه ژوند به له خپلو تولو ښېګڼو او بدیو سره ستاسو په لاس کې وی .. تولنه تاسو ته میراث کرپاته کیږی ، تاسو باید دا میراث کټ مټ خپلو زامنو ته ونه سپاری ، تاسو باید نیمګړ تیاوې او بدی لرې یا بالکل ورکې کړی . تاسو باید ښېګڼې زیاتې او د بد مرغیو د ارو پیدا کړی . تولنه باید کټ مټ و نه ساتله شی . »

ګرانو ماشومانو وینی چې باید دا کاله ژونده اوډده له لیکنو څخه پند وا خلو . موږ باید په خلکو باندې ډده لـه ایمان ـ ډده د مبارزې له جرئت او ډده له انقلابی لیکنو څخه ډېر ـ ډېر څه زده کړه .

« د مینی افسانه » یوه خوږه اوپه زړه پوری کیسه ده . کاکا په دی افسانه کی دربار ، پاچا ، د پاچا لورا ودوی جلادان راښیی ، د دوی ظلمونه ، وهل ټکول او وژنې برښندوی . بلی خوا ته ښه او

(۱) ـ د بهرنګی دا کتاب هم په پښتو ژبا ړل شوی چې ژر به چاپ او د ګرانو ماشومانو لاس ته ورسیږ ي .

خو اري کښې خلک او بېنوا حميد ، خوري ګل غانګه ، او وه توري جوړ-
وونکي وروته ، د دوی سورمشي او بالاخره د (غا تول) ګل .

دا کسان د خلکو نه اړ پاڅېدلي ځکه مبارز او انقلابي دي .
دمېښې په افسانه کې په رنګي د خلکو دښمنان يعنې پاچا او دده
جلادانو ته په کرکه ګوري او د انقلابيو نو او خلکو ښېګڼې ، صفا ،
صميميت ، زړه ورتوب او هوښياري ستايي . او وه توري جوړ ونکي
وروته د انقلابيو نو له پاره توري جوړوي څو د خلکو د دښمنانو سره
وجنګېږي ، «غا تو له» چې د ګل ښه يې غوره کړی ده يوه انقلابي پېغله ده .
د ادغا تول ګلونو يا په بله ژبه د انقلابيونو شهادت او قرباني په خپلو
سترګو ويني . «غا تو له» د نورو غا تولو په شان سرښندونکې او فداکاره
ده . په دښته کې يوا زې پاته کېږي څو بيا دښته له غا تولو
څخه ډکه اوسره کړي .

حميد د افسانې قهرمان د پاچا د لور او «غا تولې» د توپير په باب
وايي : «د پاچا د لور کړه وړه او اخلاق ناوړه او ډېره په ځان مينه ده
زه د غا تولې يو ويښته د پاچا په زرو لورانو نه بدلوم »

د پاچا لور (ګل غا نګه) په اول کې يوه مغروره ، ظالمه ، په ځان مينه
او درباري نجلۍ ده ... خو وروسته خپله ماڼۍ ، پاچا هي دربار ،
خپل پلار او جلادان ټول پرېږدي او له حميد سره تښتي . د اشګېنه له
حميد څخه زده کوي .

وړه ماشومان ښې کیسې لولی او له هغو څخه ګټه اخلي. دا کتاب ښه په غور ولولی. که مو خوښ شو موږ ته یې خبر کړی چې بیا هم ښې کیسې در له پیدا او چاپ کړو. (م ـ غ)



# د مینې افسانه

ؤ نه ؤ یو پاچا ؤ چې د ښېرو، او ښکلې یوه لور یې درلوده.

دې نجلۍ یو مزدور هم درلود چې تر دې لږ مشر ؤ او حمید نومېده، که به د ډوډۍ په وخت کې د نجلۍ دسمال په ځمکه ولوېده حمید به بېرته ورکړ. که به د لوبو په وخت کې توپ لېرې ولاړ، حمید به ورته راوړ، کله به هم د پاچا د لور زړه د لوبو د ګڼ شمېر سامان څخه تور شو او د ګاك ډنډي هوس به ورغی. د پاچا د لور ګاك ډنډه د سرو سپینو وه.

لومړی ځل چې د پاچا لور د ګاك ډنډې هوس وکړ، پاچا د ښار ټول زرګران راغونډ کړل او امر یې وکړ چې د لور ګاك ډنډه یې باید تر یوه ساعته پورې جوړه شي. په دې ګاك ډنډې کړ یو ملیون زیاتې روپۍ مصرف شوې او یو زرګر هم په دې کار ووژل شو.

ځکه ویلی یې ؤ چې ضرور کار لرم او نه شم در تلای. زرګر د خپلې ګوچنۍ لور لپاره اېښې جوړ ولې.

هر وخت به چې د پاچا لور په کاکړنه بوخته شوه حمید به له بڼ لېرې
سترګې په لار ودرېد، د پاچا لور به د سپینو زرو کوچنی لرګی په ځمکه
کېښود او د سرو زرو په اوږده ډنډه به یې له څنګ ووهه او ایسته
به یې غوزار کړ، حمید وظیفه درلوده چې په لرګی پسې منډه کړي،
پورته یې کړي او بېرته یې شهزادګۍ ته وروغورځوي. شهزادګۍ به په
هوا کې لا ټینګ وواهه او نور به یې هم پسې لېرې وغورځاوه.
حمید به بیا ولاړ هغه به یې راواخیست او شهزادګۍ خواته به یې وغور-
ځاوه، کله به چې شهزادګۍ ستړې شوه حمید به هم ولاړ د شهزادګۍ د لوبو
سامان خاص ساتونکی به یې خبر کړ چې راشي، کاکړنه یوسی او د لوبو
د نورو زرګونو ښیا نو ترڅنګ یې کېږدي. وروسته به حمید د شهزادګۍ
د جامو ساتونکی ته ورغی چې شهزادګۍ ته د خوړو خاصې جامې ورو ړی
او د کاکړنې جامې راوړي په خپل ځای یې کېږدي.

حمید یه بیا د پاچا د لور د مخصوص اشپز د خبرتیا لپاره ورغی څو
نجلۍ ته د کاکړنې نه وروسته خواړه ورو ړی ، د پاچا لور به
د هری لوبې په پای کښې خاص خواړه خوړل.

د حمید تل همدا وظیفه وه کله به چې نجلۍ ویده شوه ده وظیفه
درلوده چې ټولو ته خبر ورکړي چې شهزادګۍ ویده ده، څه مه وایې او څه
مه پوښتۍ.



د پاچا لوربه‌چې هر اسر درلود حمیدبه‌په سره‌سینه اوژر سرته رساوه‌اوکار ونه به یې هسې ښه ترسره کول چې شهزادگی هیڅکله دوهلو لاس نه‌وپرې پورته کړی. حمید دپاچا په لورمین ؤ، رښتیا رښتیا پرې گرانه‌وه، حمید داکاربدنه‌گانه، هیڅ ویره نه‌وروله‌یده او دعیب وړ یې نه‌پاله‌څکه یې یوه ورځ نجلۍ د زړه په رازخبره کړه.

هغه‌ورځ شهزادگۍ په بڼ کې پتنگان نیول، حمیدهم تریوې ونې لاندې ولاړؤ اودې ته یې کتل. کله به هم چې کوم پتنگ دونې په‌سرکیناست حمیدوظیفه درلوده چې په‌ونه وخیژي او هغه راوالوزي، ناڅاپه شهزادگۍ پر یوه‌ونه یولوی پتنگ‌ولید، حمیدته یې ورغږ کړاو ویې ویل: حمیده راشه داته‌وګوره زه تری داریږم.

حمیدورمنډه کړه پتنگ یې ونیوا ودښکار په ټکری کې یې واچاوه، کله یې چې‌سر راپورته کړ نجلۍ مخامخ ورته‌ولاړه وه‌دده هم په‌داکه او سپین ورته وویل: اوگلالی زه په تامین یم، راشه زمانه‌اند یښه شه...

دده خبره لاپای ته نه‌وه رسیدلې چې دپاچا دلور څېره یې پرمخ ولیګده اوچیغې یې کړې: بې ښخ او بوتیه‌مزدوره... ته څه‌حق لرې‌چې‌په ما مین‌شې؟ داخبره‌دې هیره‌شوې ده چې زه دپاچا لوریم اوته‌سې مزدوریې، ته‌زماد سپې دپښوخاورو ته هم نه‌شې‌رسیدلای...

سپېره ... ورکشه د ستر گو نه مې لېرې شه !.. ورشه وینځو ته مې وو ایه چې راشي او ما یو سي . نور نو نه غواړم چې ستا خېرې ستر گې ما وو یني .

حمید وړغی وینځې یې خبرې کړې . وینځې د تخت روان سره راغلې اوو یې لیدل چې د پاچا لور بې سده پرته ده . وینځې او مرېیو نه په حمید ور تول شول چې د پاچا په لور دې څه وکړل ؟ ... حمید وویل ما هیڅ ندي پرې کړي ، خپله په غوسه شوه زه یې سخت وو هلم او بې سده پریوته ، په چار یارو او اصحابو قسم .

خو چا منله ؟ گلاب او شربت یې راوړل ، نجلۍ ښه شوه ، په تخت یې کېښوله او ماڼۍ ته یې یو تله ، د پاچا لور امر وکړ : پلار ته مې وو وایاست چې ددې نمک حرامه مزدور غوږونه پرې تاو کړي او د سپې په شان یې د ماڼۍ نه وباسي . نور نو نه غواړم چې د دا خېرې ستر گې یې ما وو یني .

د پاچا د امر سره سم حمید هغه گړۍ له دربار څخه و شړل شو د پاچا لور څو ورځې ناروغه شوه ، هره ورځ به یې هوتنو طبیبانو څارنه کوله ، په پای کې دې پخپله وویل چې روغه شوې یم او طبیبا ن یې رخصت کړل .

( ۲ )

کلونه تېر شول او د پاچا لور هره ورځ او هر کال تر پخوا زیاته په ځان مېنېده ، چا ته یې د سپی په ستر گه هم نه کتل . کله چې اتلس کلنه شوه



حکم یې وکړ چې هیڅوک حق نه لري دې ته
وګوري او په خپلو کتلو دې د پاک وجود نا ولې کړي. که د مزدورو
او مزدورانو نه په چا سهواً ورته وکتل تر بسه پورې به یې سترګې
خوږې او که به یې خوله وخوځوله چې څه ووایي ژوندی به یې
د هغوی ولیوانو خولې ته چې د پاچا لور د خپلې تفریح لپاره په
بڼ کې ساتلې وه ورواچاوه. لوربې د همدې کارو په توسن به پاچا
ډېره ګرانه وه او تل به یې داسې ورته ویل: لورې، ډېره
راپاندې ګرانه یې ته کټ مټ زما په لار روانه یې.
د پاچا لور دې پورې ته رسیدلې وه چې تل به په بڼ کې یوازې ګرزیده
او د چا سره به یې خبرې نه کولې او ویل به یې چې څوک یې وخبر ولیاقت
نه لري شهزادګۍ د بڼ په منځ کې دوه لوی حوضونه جوړ کړي وو چې یو
به تل د تازه شودو او بل به د یاسمنو، سرو ګلانو او ګلابو د عطرونو
څخه ډک و، د دې حوضونو دواړو خوا وو ته به د ومړییو څارنه کوله
چې حتی خپله یې شهزادګۍ ته د کتلو حق نه درلود.

شهزادګۍ به لومړی د شودو حوض ته ور ننوته له هغه څخه به د ګلابو
حوض ته راغله او په پای کې به یې ځان په د رومال کې ونغښته.

د پاچا لور به ځان د نورو نه دومره لېرې ساته چې ښځی به یوازې پاتەو
شوه او نه به پوهیده چې وخت څنګه تېر کړي. د لوبو د سامان، پتنګ
نیولو، د ګلانو تولولو، د شیدو او ګلابو د لامبو، خوړلو، څښ

او دلیوانو د ننداري څخه یې زړه تورشوی و، ډیر وخت به هم ویده وه
او تل به یې حمید په خوب لیده. حمید به راغی چې د شهزادګۍ سره لوبې
وکړي، شهزادګۍ به لمړی خوشاله شوه خو سمدلاسه به وریاد شول
چه د پاچا لورده او د نورو نه ډیر توپیر لري نو به غوسه‌نه شوه او
حمید به یې د ځانه وشاړه خو حمید به نه پرېښوده او غوښتل به یې چې
د هغې لاس ونیسي، شهزادګۍ به هڅه کوله چې خپل لاس ترې لېرې کړي
خو آخر به نشوه او حمید به تر لاس ونیوه او دواړه به په لوبو، منډو
او ټټنګ نیولو بوخت شول. د لوبو په منځ کې به حمید شهزادګۍ ته ویل
چې زه په تا مین یم.

ستا دې قسم وي شهزادګۍ کله چې زه هم ځوان شوم زما مېړمن
شه...

دته به یاد پاچا لور ته وریاد شول چې شهزادګۍ ده، حمید به
ا یې په څپېړه وواهه، چیغې به یې کړې او شور زوږ به یې جوړ کړ.
حمید به یې جلادانو ته وسپاره او نا بېره به یې په خپلو چیغو کې
له خوبه راترپ کړل...

تل به یې حمید په خوب لیده... د کوچنیو الی او ورکتوب
په څېره...

د پاچا لور ډیر زور بیا ران هم درلودل، څو شاهزادګان د لیرو
ملکو څخه ددې په غوښتنه راغلی وو خو دې نه کتلی نه لیدلی تول

بېر ته رخصت کړي ؤ چې پهٔ ماېيله ځانه بل څوك ندي ګران .

## (۳)

يوه ورځ د پاچا لور پهٔ حوض کې لمبل چې يوه ښکلې کوتره راغله او د حوض لغاړې دا ناردونې پهٔ شاخ کېناسته او وې ويل !
اې ښکلې نجلۍ ته څو مره ښکلې يې زه پهٔ تا مېين شوم ، هيله کوم د شودو څخه راووزه چه ښه دې ووينم.

د پاچا لور وويل : آه! بد مرغې کوترې تا ته امر کوم چه د دې ځا يه څخه ولاړه شه زه يوه شهزاد ګۍ يم هيڅ څوك حق نه لري چې ما ته وګوري ، هيڅوك زما سره دخبرو لياقت نلري.

کوترې وخندل او وې ويل : اې ښکلې نجلۍ زه پوهيږم د يروخت کېږي چه ملګر ې دې نشته څو...

د نجلۍ نه هر شو ل چې د پاچا لو رده ، يو ناڅا پهٔ يې زړه نرم شو او وې ويل : اې خوږ ژبې کوترې ، هيله کوم چې ما ته مه ګوره ، ښه کا رندی. کوترې وويل : اې ښکلې! را باندې ګرانه يې زما پهٔ واك کې نشته چه درته ونه ګورم .

شهزادګۍ وويل : اې خوږ ژبې کوترې زه خو نه شم کولای چې د يوې کوترې مېنه ومنم که زه رښتيا در پا ندې ګرانه وم او ته رښتيا پهٔ ما مېنه يې نود دې ښې (کوتره) څخه دې راووزه چې زه ستا رښتيا نې څيره ووينم .

کوترې وويل : اې ښکلې نجلۍ زه څنګه باور وکړم چې ته به زما مېنه ومنې؟ يوشی دې ګروراکړه څو زما زړه دادهٔ شي او خپله

ښه بدله کړم.

نجلۍ وویل: اې خوږ ژبې کوترې چې هر څه غواړې، ویې غواړه، درکوم یې.

کوترې وویل: اې ښکلې نجلۍ خوب دې راکړه.

نجلۍ وویل: اې خوږ ژبې کوترې زما په خوب به دې څه درد دوا شي؟

کوترې وویل: اې ښکلې نجلۍ وروسته به پوه شې چې خوب دې زما څه په درد خوری.

نجلۍ وویل: اې خوږ ژبې کوترې خوب مې ستا.

دا وخت د نجلۍ د مړئیو د ښو ځپاشوه چې د سمالونه یې په لاس کښې ؤ، سرونه یې ځوړند او ورو ورو راتلل، کوترې وویل: اې ښکلې نجلۍ خوب دې زما شو، مړئیونه دې راغلل زه لو هم وروسته به بیا راشم زه به تا «گل هانکه» نوم ږدم دا به چه له وي چه تا غوندې ښکلی پېغله یې نومه وي.

د پاچا لورته پوهلی وریا د شول چه شهزادگی ده او چیغه یې کړه: او نا ولې کوترې تا څه حق درلود چه زما سره دې خوړې وکړې، زما خوب پیر ته راکړه او کنه زه او کولمې به دې له ستونی ځخه راویاسم، ته هیڅ حق نه لرې چه په هغه ناولې خوله دې په ما نوم کېږدې.

خو کوتره د وخته د انار له ونې ځخه الوتې وه، شهزادگی بې ځایه غوسه نه وه او بې ځایه یې خپل جلاد ان مرستې ته راغوښتل.



ځواوني کېدې چې شهزادګۍ یوه ګړۍ هم نه وه ویده شوې،
خوب یې بالکل ورک شوی و. په ټولو یې د لېونتوب
خیال کاوه، د لېونیتوب په شان به په کوټه کې ګرزیده، په دروازو
او دیوالو به یې څپړې لګولې او ټول به یې ښکنځل، هیڅوک یې
نه منل، حتی پلار او طبیبان یې، په شپو او ورځو به یوازې
وه، اخر ستومانه شوه، ناروغه شوه او پر ځای پریوته.

خو بیا هم خوب نه ورته، د ځای یې نه خبرې کولې او نه به
ښوریده. اجازه یې ورکړې وه چې طبیبان یې سر ته راشي، وې ګورې
او بېرته لاړ شي خو هیڅ طبیب هم یې په رنځ پوه نشو او وې نه کړای
شول چې ناروغۍ یې درمل کړي، د پاچا د امره سره سم هیچا په شهزادګۍ
پاندې د لاس وهلو حق نه درلود. په همدې توګه طبیبان
د دې په رنځ نه پوهېدل.

یوه ورځ یو زوړ او له لرې ځایه راغلی طبیب راغی او وې
ویل: زه پرته له دې چې په ناروغ لاس ووهم کولای شم چې معاینه یې
کړم او دارو ورکړم. که مې و نه کړای شوای سر مې غوڅ
کړئ. پاچا وویل هغه ناروغۍ ته ورولېږئ، زوړ طبیب د پروخت د
نجلۍ تر څنګه کښېناست، ننداره یې وکړه او وې ویل: یوازنی درمل
یې (د مینې افسانه) ده باید یو څوک ورته د مینې افسانه واوروي
څو چې ښه شي او خوب پرې راشي، پاچا امر وکړ او د ښار نڼو ره ـ

چیانو د ښارپه شاا و خواکې ډنډوره وغږوله : د هرچا چې د (میني افسانه) زده وي، رادې شي او د پاچا لو رته دې يې واوروي څو حاکم بې شمېره مال او دولت ورکړي .

ډېر د مال اوشتو په تمه راغلل چه (د میني افسانه) موزده ده خو کله به چې د نجلۍ د خونې د پردې شاته راورسېدل مجبور به شول چې څه رښتیا او دروغ سره ګډ کړي . ښکاره ده چه دې افسانو به د پاچا په لور هېڅ اغېزه نه کوله او پاچا به هم تول د جلادانو تېرو تور وته سپارل ، نور نو چا زړه نشوی کولای چه راوړاند شي، څو ورځې تېرې شوې بیا هم هغه زوړ او پردېس طبیب راپیدای شو، طبیب پاچا ته وویل: دا څنګه ښار دی ء چې څوك د میني په افسانه نه پوهېږي. په پلاني غره کې یو ځوان شپون دی ء چې (د میني افسانه) یې زده ده ، پاچا حکم وکړ چې ورشيء هغه راولیء خو زاړه طبیب ورته وویل : پاچا پدې پوه شه چې که ته خپله پسې ولاړ نه شې هغه د غره هغه نه راکوزیږی .

طبیب ولاړ ، پاچا او څو تنه نور په آسونو سپاره شول او سخ په غره ولاړل کله چې د غره لمنې ته وررورسېدل . ځوان شپونکی ته يې ورغږ کړ، شپانه د غره د پاسه وویل تاسی څوك یيء او څه کار راسره لری؟ پاچا وویل : زه پاچا یم ، تاندی اوریدلی چه زما لور نا روغه پرته ده ، غواړم چې ته ورته ...

د پاچا نه هیرشول چه طبیب څه ورته ښودلی وُ، شپانه ور په یاد کړل: (دمیني افسانه) غواړې؟

پاچا وویل: هو همدغه چې تاوښوده، یوه زاړه اوله لېرې وطن څخه راغلی طبیب وویل چې ستا یاده ده.

ځوان شپانه وویل: هوزده مې ده.

پاچا وویل: که مې دې لورښه کړه په ډېر دولت، سرو اوسپینو به دې موړ کړم.

شپانه په داسې حال کې چې له غره نه را ښکته کیده وویل:

پاچا که دمال اوشتو خبرې وکړې زه نه د رحم، (دمینې افسانه) یوازې دمینې له پاره ویله کیږي.

پاچا لورنو څه ونه ویل، زړه یې غوښتل چې دا یې اد به شپون د جلادانو لاس ته وسپاري څو څه یې ونه ویل. شپون د پاچا سره په اس سپور شو او تول د شاهی ماڼی په لور روان شول څو چې د پاچا ماڼی ته ورسیدل، شپون یې د پردې شاته کېناوه او ورته یې وویل: د مینې افسانه پیل کړه، نامحرمې ستر کې باید د پاچا په لورونه لګیږي.

ځوان شپون وویل (دمینې افسانه) هم داسې شی نه ده چې هر څوک یې واوریدی شی که زما او د پاچا ترلور پرته بدې شاو خوا کې بل څوک وی افسانه به مؤثره نه شی او زیا ته یې کړه چې تول دې لېرې شی.

پاچا حکم وکړ چې د نجلۍ په مانۍ کې دې هیڅوک نه پاته کیږي.

په مانۍ کې یوازې شپون او د پاچا لور پاتې شول. ځوان شپانه پرده بېرته کړه او کوټې ته ورننوت. شهزادګۍ اوږده غزیدلې وه، هیڅ او هیڅ شي ته یې پام نه و، شپون د دروازې څنګ ته کېناست او په اوچت اواز یې وویل: اې ښکلې نجلۍ ... اې ګل څانګې (دمینې افسانه) درته اوروم، اورې یې؟... ګل څانګې اشنا غږ واورېد، ورو یې سر را پورته کړ او سترګې یې په ځوان شپانه کې خښې کړې او وې ویل: هو غوږ ورته نیسم وې وایه.

شپون (دمینې افسانه) پیل کړه او وې ویل:

ؤ نه ؤ یو پاچا و چې د شپږو اوو کالو یوه لور یې درلوده، دې نجلۍ ډېرې وینځې او مریې یونه درلودل. یو مزدور یې حمید نومېده چې تر دې لږ مشر و. د ډوډۍ خوړلو په وخت کې به که د نجلۍ دسمال په مځکه ولویده حمید به ور کاوه. که به د لوبو په وخت کې توپ لیرې ولاړ، حمید به بېرته راووړ. کله به هم نجلۍ د کاک ډنډې هوس وکړ، کاک ډنډه یې د سرو او سپینو وه. کله به چې نجلۍ ویده شوه حمید وظیفه درلوده چې د وره په شا کې څملی څو وینځې، مریونه او نوکران پوه شي چې هغه ویده ده او راویښه یې نه کړي.

د پاچا لور به چې هر امر درلود حمید به په ورین تندي او خوښۍ پسې



ولاړ او کار ونه یې هسې شه تر سره کول چې د پاچا لور هیڅکله د وهلو لاس نه وُ پرې پورته کړی. حمید د پاچا په لور مین وُ، رښتیا پرې ګرانه وه، دده په فکر دې کار هیڅ عیب نه درلود، اخر ګرانښت څه عیب لرلی شی، کله به چې په بڼ کې سره یوځای وُ او د پاچا لور به پتنګان نیول یا به یې کاغذ ناوه کوله، حمید به ځان هسې خوښ او خوشحاله لیده چې سه یې بوښه.

هیڅ وخت د هغې په لیدو نه سړیده، زړه یې غوښتل چې تر لاس یې ونیسې، د واړه سره و ګرزی او پتنګان ونیسی خو د پاچا لور خوك نه خوښول، وېنځو او مرئیو ته به یې په سپکه سترګه کتل او خپل ځان ته یې نژدې نه پرېښول، حمید همغسې خوښ او خوشاله ژوند کاوه تر هغې ورځې پورې چې پوه شو: نور نو نشم کولای چې د زړه راز پټ وساتم. همدا وچې، یوه ورځ یې د پتنګ نیولو په وخت کې نجلی ته وویل: او شهزادګۍ زه په تا مین یم ... هیله کوم چې په ځوانی کې زما میرمن شه.

د پاچا په لور دا خبره دومره بده ولګېده چې حمید یې په څپړه وواهه او له کوره یې وشاړه، خو دا فکر یې ونکړ چې څه بلا به پرې راشی؟.

ځوان شپونکی غلی شو، شهزادګۍ وویل: شپونکیه بیا څه وشول؟
شپانه وویل:

اې ښکلې نجلۍ ته څه فکر کوې په څه پلا به اوښتې وې ؟ نجلۍ وویل:

ما هیڅ فکر نه دی کړی او نه پوهېږم چې په څه پلا به اوښتې وي،

ته پوهېږې چې څه پېړې وشول، راشه وړاندې اووې وایه.

شپونکی پاڅید او د نجلۍ د پالنګ څنګ ته کښیناست، د هغې لاس یې په لاس کې ونیو او د (مینې افسانه) ته یې داسې ادامه ورکړه.

د حمید پلار شپون ؤ، حمید ډېرې دښتې او ډاګونه پلی تر پښو ویستل څو یې چې خپل پلار په غره کې بیامونده. پلار یې ناروغه ؤ، او د پسونو په پنډغالی کې ویده ؤ. خور یې چې د ده همزولې وه، رمه پوولو ته بېولې وه، پلار یې د زوی په لیدلو ډېر خوښ شو او وې ویل:

حمیده څه ښه وخت راغلې، زه مرم، خور دې یوازې مه پرېږده، یوازیتوب وژونکی رنځ دی.

پلار مړ شو. زوی هملته د غره په سر ښخ کړ. مازدیګر مهال چې خور راستنه شوه د پلار په ځای یې ورور ولید، دواړو په خپل پلار پسې ډېر وژړل او په قبر یې ګلونه وکرل.

ورځې، اونۍ، میاشتې او کلونه تېرشول. حمید او خور یې اوولس کلن ـ اتلس کلن شول، دواړو به غرونه او دښتې تر پښو ایستې، رمه به یې په ډېرو شنو ځایونو کې پوولې او شپې به یې د خپلو پسونو سره په پنډغالو کې تېرولې او چې کله به پسونه په ژمنی ځایونو کې ننوتل او دوی به وزګاره شول نو کله ناکله به ښارته هم راتلل.

د حمید خوږد پسرلي د وږمې غوندې پسته او د وني د لمر پلوشان تازه، معطره، د مینې وړاو د ژوند د څپو د سپوږمۍ پلوشان روښانه، په زړه پورې او د بېدیا یي غاتول پلوشان سره، سپینه او غړځنۍ وه. په همدې توسن به حمید غاتول بلله .

یوه ورځ یې چې رمه راستنه کړه حمید ولیدل چې یوه وزه درسې څخه کمه ده، د یوه تکړه سړي په ملتیا په وزه پسې روان شو، د څو غرونه واوښت، ويې لیدل چې وزه په یوه چینه ناسته ده، ژاړي او د پاني پلوشان رېږدي. سړي چې وزه ولیده وغپېداو پر غږ یې کړ: مه ژاړه ... درغلو .

وزه خوشاله شوه او وې ویل: ډارېدم چې را به نه شئ او د لیوانو خوراك به شم. کور ودانی وایم .

هوا ورو ورو تیاره کېده، حمید ولیدل چې د غره د بېخه او وه دانې سپین اسونه مخ پورته راروان دي نو یې وزه سړي ته په لاس ورکړه او دواړه یې ولیدل دی د یوه کمره شا ته منتظر کښېناست، اسونه چینې ته راورسېدل په هر یوه باندې یوژی با رؤژی بې له او بوڅخه ډك کړل، کله چې بېرته ستېندل یوه اس ناره کړه: نور نو په هغه ماڼۍ کې یوازې ژوند نشم کولای یا هم دلته ځان وژنم یا ځم خپل ښار ته، تاسې هم ورشئ خپلو ترلو (د تر ولورانو) ته .

خو نورو اسونو د اهو ګیر نه ور کړه او ټول بېرته ستانه شول. حمید هم پدوی پسې روان شو، ولاړل، د یو بر وغرو څخه واوښتل څو هغه ځنګله ته ورسېدل چې یوا لوتونکی، خوځېدونکی او ښر یدونکی ژوی هم پکی نه ؤ. په ځنګله کی اووه ښکلی ماڼۍ لیدل کیدې، آسونه بېلو بېلو ماڼیو ته ورننوتل، حمید کرار په ننداره ولاړو، یو ځلې یې سپینې کوترې ولیدی چې د اسمان څخه راکوزې شوې او هره یوه یوی ماڼۍ ته ور ننوتې حمید بیا هم سترګی په لاره ولاړو، د ژړا غږ یې واورید، ټولو ماڼیو ته یې بېل بېل سر ورو کتل په هره ماڼۍ کی یې د سپوږمی په شان پېغله اودامر په شان زلمی ولیدچې په خبرو او خندا سره لګیاؤ خو په اوومه ماڼۍ کې یې یو ډېر ښکلی ځوان ولید چې یوازی ناست ؤ او د ګچ په ټوټو یې د (غا ټول) ګل انځوراوه او په سلګیو سلګیو یې ژړل، هسې یې ژړل چې د کاڼی زړه یې نرماوه، حمید ورننووت، سلام یې ورکړ، او وې ویل:
اې ځوانه مه ژاړه، زړه مې دې خوږین کړ.

ځوان سر راپورته کړاو وې ویل: ته څوك یې او له کومه ځایه راغلی ؟

حمید وویل :

زه د غره شپونکی یم ستا د ژړا غږمې واورید، ځکه د لته راغلم.

ځوان وویل: سهار مې په غره کې ولیدې، په شوې چې راغلې، راشه
کېنه، چې زړه مې د خبرو ملګرې غوښت.

حمید کېناست او وې ویل: ولې دې ژړل؟

ځوان وویل: زما کیسه لږه اوږده ده که یې داورېدو توان
لرې کېنه درته وایم یې.

(۴)

داوخت یې خپله کیسه پیل کړه او داسې یې وویل: «مونږ اووه
ورونه یوو، دوې ورځې کېږي چې دې ځنګله ته راغلي یو، په ښار کې
اهنګران وُ، یو زوړ پلار مو درلود چې د ښار تر ټولو تورو جوړونکو نه
ښاوری وُ، دورځې به مو اهنګري کوله او دشپې به مو په پټه او تر ځمکه
لاندې توري جوړولې. پاچا دوسلې جوړول بند کړي و خو ځنګه چې
د ښار خلکو تورو ته اړتیا درلوده مونږ مجبور وو چې د شپې کار
وکړو. په دوکان کې مو یو لوی سندان درلود چې د معمولي سندانو
څخه لس ښځلس ځله لوی و، اته تنه به ترې تاو شوو او پتکونه (ما رتول)
مو وهل. یوه ورځ مو پلار راته وویل: زامنو زما پښې د ګور پر غاړه
دي، زه مرم، خو تاسې به ډېر کلونه ژوندي وئ. نو ځکه د ژوند یوې
ملګرې او ماندینې ته ضرورت لرئ، د واده وخت مو هم را رسېدلی
دئ، له تاسو سره داسې ښځې جانې چې ستاسو په شان متې را ونغاړي،
پتکونه وار کړي او توري جوړې کړي، ستاسو په ترلو کې دا متره

(قوت) ښته او داښېګڼه لري ددې لپاره چې تاسو هم خپل لياقت ځرګند کړی وي ما او ستاسو اروا ښاد تره ستاسو د آزمېښت لپاره يوه نقشه ايستلې ده. ستاسو تره د لوړانو پټه مو د هغې سندان په زړه کې ايښې ده، تاسې بايد يوه داسې تېره او مضبوطه توره جوړه کړئ چې په يوه وار سندان دوې ټوټې کړي خود خپلو تر لوړه ترلاسه کړئ.

پلار مو ځوروکې ور وسته مړ شو، موږ په کار لاس پورې کړ، زيات وخت تر سخکې لاندې دوسپنو، پولادو او پلکونو سره اخته وه و ډېر خوهره توره به مو چې جوړه کړه په سندان يې هېڅ نه شوي کولای او خپله به دوې ټوټې شوه، ځې ژمی په يوه تياره او سړه شپه کې د داسې يوې تورې په جوړولو بريالي شوو چه د سندان زړه يې څيرې او دوې ټوټې کړ، د سندان له منځ څخه يو کوچنی د بلی راووت، د دبلی په منځ کې يوه پاڼه ايښې وه چې پرې ليکل شوي و: تورې جوړونکو تر بو رانو:

ستاسو توري له تېزوالي نه چار، ژر تر ژره راشی، زړونه موږ تاسې پسې کباب دي او ډېر مو ياد يږی.

لوځې دښتې مو په ونو پټې کړي او شاوخوا ځايونه مو تول جارو کړي دي، تاسو ته ستر ګې په لاره يو، ز موږ پټه له پسرلی له لمړنی سره رغا تول) نه و پوښتی. ستاسو ترلې.»

دی پاڼې مو تلوسه دومره زياته کړه چې مه يې پوښته،



غوښتل مو چې هغه شېبه پاڅېږو او په پېغلو نجونو پسې ولاړ شو، خو نه یې په پټه پوهېدو، او نه مو خپل کار پرېښودی شوی. د ښارتور ځنو هغه ورځ د زړو دانو تېرو تورو غوښتنه کړی وه چې د ژمي تر تمامېدو د مخه مو پا یدو رسپارلی وی، تصادفاً ژمی اوږد شو، پسرلی په ځنډ راغی، زموږ تلوسه ورځ په ورځ زیاتېده، وا وری نوې ویلې شوې وې چې د غونډۍ په سر مې یو ښکلی سور (غاټول) ولېد چې په ټټرېې یو ستر تور داغ درلود .

له (غاټول) نه مې پوښتنه وکړه :

زموږ ترلې چېرې دی ؟ نښه یې په لاس راکړه .

(غاټول) سر راپورته کړ او وې ویل : د ترو زویه ! ما ښکل کړه چې در وېې ښیم. زه ټیټ شوم (غاټول) مې ښکل کړ، (غاټول) را ته وویل: سږ کال ژمی سخت تېر شو او پسرلی په ځنډ راغی، د تره لوراني مو دېرې در پسې خپه او ناکرا ره دی . ان تردې چې که ژر ورنه شیء ځانونه به ووژنی. زه به تا سوته د اراز د روښېم چې ځنګه کله د کوترو په جامه او کله د اسو په جامه ولاړ شيء ځو په بېړه ورو رسېږی .

(غاټول) د نجونو پټه په لاس را کړه او راو یښودل چې څنګه کله د کوترې په بڼه او کله د آسو په جامه ولاړ شو. وروستی خبره یې بیا هم ما ته وه :

تو بوره! زړه مې څوارې چې ما وشکوې او له ځانه سره مې وګرځوې خو څه وکړم چې پښې د (غاټولو) ټول زړې وچ کړې دي. که زه هم نه وم نو څوك به دې غونډ يو ته سرې جامې ور واغوندي، څوارم چې و مې نه شکوې ترڅو خپل زړې هرې خوا ته وشيندم او څوندي يې له (غاټولو) څخه د کې کړم او سرې يې کړم.

له (غاټول) څخه يې شوو ټورې موڅوانانو ته ور وسپارلې، ځانونه مو د کوترې په بڼه کړل او روان شوو، کله چې د يرو الوتلونه ستړي شوو داسو په خېره شوو له د يروغرونو څېندنو او دښتو څخه تېر شوو څو چې يرون ما زديګر همدې ګن ځنګله ته را ورسېدو او دا مانې موولېد چې، څو داني پالنګونه هم پکې ايښې وو، کرار کېناستو ماښام مهال شپږ سپينې کوترې د ځنګله له بوې څنډې څخه راښکاره شوې، چې موږ يې وليدو خوشاله شوې، راکښته شوې.

او د خپلو جامو څخه راووتې، خو شېبې وروسته د سوږ مو په ځان شپږ ښکلې نجونې ترې جوړې شوې، او وې ويل: د ترهزامنو په خېر راغلي يې!

بيا يې ما ته وکتل او وې ويل: د ترهږېه، ته هم په خېر راغلې ،زموږ کشرى خور غاټول وېلي چې صبر کوه سږ کال ژمى سوړ او او بږ د تېر څو او د (غاټول) ټول زړې يې وچ کړل. که (غاټول)

داکارنه وي کړی موږ به مو د تل لپاره ورکې کړی وي . څکه نور نو زړی نه وپاتې چې ګلو نه و څوړوی او زموږ نښه تاسو ته په لاس در کړی . که زموږ خور غاټول خپلی وینی په ځمکه نه وی توبې کړې مځکې به د تل د پاره غاټول هېر کړی وای او خلکو به هم نورغاټول نه وای لیدلی .

ددغو خبرو په اورېدو نژدې لېونی شوی وم چیغه مې کړه: نو هغه دغونډی دپاسه سور (غاټول) زما خپله غاټوله وه .

ټولو خوېندو په یوه آواز وویل: هو هغه دغونډی دپاسه سور غاټول زموږ کوچنی خور غاټوله وه. دې نه غوښتل خلکې دا خبره ومنی چې رښتیا هم (غاټول) په بېدیا کی نشته، غوښتل یې چې غونډی یې په غاټولو وپوښی او سرې یې کړی، هو اوس یې ترموږ ټولو زیاته وه، ځان یې ترموږه او ترمځکه جار کړ.

یوه شپه مې په زړه کی راوګرزېده: ورشه (غاټول) راو- څکوه خو دهغې سرښند نه دومره زیاته وه چې زه غلی شوم ترلومې وویل چې زه په غاټول د پېر ګران وم، پرا یې ټول د غاټول په مانی کی ؤ، اوس مې دورونو او ټولو دواده وخت هم راریادلی دی، خو دوی خپل واده زما له پاره ځنډوی. ما هم نه پرېږدی چې بهارته ولاړشم. نن یواز ټوب د پرو څوړولم، د پرسې و ژړل چې د خپل زړه دوکو پاسم، تا ته کور ودانی وایم چې راغلې او زما د زړه خواله دې واورېدل.

کله چې ځوان خپله کیسه تمامه کړه حمید ووېل : ته باید وژاړې ، زه هم یو وخت د ښار په لور روان شوم ، خو ځینې له خپلې ماڼۍ نه وشړلم او ما هم هېره کړه .

ځوان پوښتنه وکړه ولې دې ویې سیده ؟

حمید ووېل : نه که یې اوس هم ووینم بیا هم ورې مین یم ، دومره ښکلې ده چې حد نه لري ، بې جوړې ده ، خو کړه وړه یې ناوړه او ډېره ځانخوښې (خودخواه) وه زه ستا د غاټول یو ویښته د ښار په زرو لونو نه ورکوم .

بیا ځوان ووېل : حمیده ! ته یوازې ژوند کوې .

حمید ووېل : نه ، زه مې د خپلې خور (غاټول) سره ژوند کوم .

ځوان ووېل : ودې وېل (غاټول)... هغه ښکلې پېغله چې ستا سره رمه بیایي ؟

حمید ووېل : هو هغه غرڅنۍ بې مخې پېغله ! هغه مې خور ده .

ځوان له خپله ځایه پورته شو او وې وېل :

حمیده ، زه خه درته ووېل غواړم خو ډار یږم چه په قهر به شې .

حمید ووېل : نو هېڅ مه یږم چې خور مې غواړې ، ښه ده ، ځه چې همدا اوس ولاړ شو ، که یې سلا وه درسره را یې وله ، زه به یوازې هم ټوولی شم .

او ځوان حمید ته ورووښودل چې ځنګه د کوترې او ځنګه د اس په

جامه ولاړشي.

دغار په منځ کې غاټول د هغې یوې وزې په ډېره مینه تېروله، هر وخت به چې هوا زې وه او خوب به نه ورته، همدا کار به یې کاوه.
وزې لیکه ناسته وې او د غاټول نکل ته به یې غوږ نیولی و، پس نو هم غوږ نیولی و خوځېدنې و ویده و او ورو ورو یې شخوند واهه، سپی د غار په خوله کې چرتي ناست و. د نیمې شپې د سپوږمۍ وړانګو غار رڼا کړی و، لږ څنډ وروسته سپوږمۍ غاټول ته وویل: غاټول! پاڅه د یوه بله کره زه ځم، نوره نشم کولای چه دلته پاتې شم.

غاټول پورته شوه، دغار په مخه کې یې د یوه روڼا نه کړه. سپوږمۍ ورو ورو لمن ښکلې ورټوله کړه او لاړه. نکل نوی پای ته رسېدلی وه چې دوې کوترې را ورسېدې، یوه یې تکه سپینه وه، بله یې هم سپینه وه خو په ټټر یې یو تور داغ درلود.

غاټول وویل: عاجزانو لار ورکه کړې ده. راشئ ماته راشئ سپینې کوترې خالداره کوترې ته وکتل او په سترګو کې یې ورته وویل:
ورځه ورانډې، مه ویرېږه، خالداره کوتره ورغله دغاټول په لاس کېناسته، غاټول ورته وکتل او ښکل یې کړه، بله کوتره هم راغله او دغاټول په لمن کېناسته.
غاټولې کوترې په ځمکه کېښودې او ویې ویل: تاسو همدلته اوسئ چې زه دانه درته راوړم.
غاټوله په دا نوېسې ولاړه، کوترو ژر جامې بدلې کړې، سپی



PROPERTY OF ACKU 7341

د حمید لیدلو ته راغی او مخې ته یې کېناست .

غاتول چې د دا نو سره راغبرګه شوه په غار کې یې خپل وروروليد چې د يوه ښکلی ځوان سره ناست دی ، او کوترې نښته په تعجب یې وو یل : ته چیرې تللی وې ، ډیر ځنډ دې وکړ .

حمید وو یل : راشه لومړې مې د املګری و پیژنه ، بهادر ته وایم چې ولې مې دومره ځنډ وکړ . دا ملګری مې په تا پسې راغلی دی ،

غاتول لومړی غلې شوه خو وروسته یې وو یل : زما کوترې موونه لیدې چیرې ولاړې ؟

حمید وو یل : موږ چې راننوتو والوتې زه ځم چې پیدا یې کړم له دې ځای نه ډیرې لیرې نه شی تللی تاسې دواړه کېنئ ، او خبرې وکړئ ،

حمید تر دې خبرې وروسته د باندې لاړ ، د ښتې ته سخامخ په یوه پرښه کېناست ، لږ ځنډ وروسته متوجه شو چې غاتول او ځوان لاس تر لاسه راروان دي ، حمید په لوړ آواز یې ږغ کړ مبارك دې وي .

ځوان وويل - ملګریه که ستا خوښه وی زه غواړم چې غاتول سمدلاسه له ځانه سره بوزم چې ورونه او ترلی به مې اندیښمنې وي .

حمید په خندا غاتول ته وو یل : غاتول ! کوترې دې نه غواړې ؟

غاتول په موسکا ځواب ورکړ : بس کړه حمیده ، په ماموښه لوبه وکړه ، نن د شوخی ډیره زیاته شوې ده .

دری واړه وخندل ، ځوان حمید ته وو یل : سبا ما زدیګر په ځنګله



کې تا ته منتظر یو، راشه چې زموږ واده دئ. وروسته د یوه سپین اس په جامه شو، غاټول یې په شا سپره کړه او روان شو، حمید تر چرګه غږ. هملته په کمره باندې ویښ پاتې شو.

چرګه غږ مهال پورته شو او د رمې څنګ ته ویده شو.

پدې شپه په ځنګله کې سخت شور زوږ ؤ، خوځېدونکي، الوتونکي او ګرځېدونکي له ځمکې او اسمان نه راپیدا کېدل او د ونو په شاخونو او ځمکه کې یې ځان ته ځالې جوړولې، دوی ټول د ودونو لپاره رابلل شوي ؤ.

اووه ننه اهنګرورونه د خپلو ځوانو او ښکلیو مېرمنو سره د یوه لوی مېز شا او خوا ته ناست وو او ښامنۍ یې خوړله، حمید هم هلته ؤ. دوی تاکلې وه چې، نیمه شپه به ناوې او زومان ځنګل پرېږدي او ښار ته به ځي، دوی غوښتل چې حمید هم له ځانه سره ښار ته بوزي خو حمید راضي نه شو او وې ویل چې زه باید خپلې مېږې او وزې کاله کړم.

نیمه شپه او وه ننوزومانو ځانونه د کوترو په جامه کړل او والوتل، حمید لېڅنله په ځنګله کې پاتې شو خو بیا زیتوب وځوراوه، اخر ترې یوې ونې لاندې کېناست او یوه ګړۍ یې وژړل چې زړه یې تش شو بېرته خپلې رمې ته ستون شو.

ځوان شپونکی بیا غلی شو، سترګې یې د شهزادګۍ په سترګو کې خښې کړې څو د خپلو خبرو اغېزه د هغې په سترګو کې ووینې، نجلۍ په لړزېدلي آواز وویل: دوام ورکړه، حمید بیا څه شو؟

شپونکي وویل: د همدې شپې سبا ته بیا حمید ته د پاچا لور ویاړه
شوه او پوه شو چې تر اوسه لا پرې ګرانه ده، ځکه یې له ځانه سره
وویل: د غره شپونکی به نه وم چې په سدیې نه کړم ... پوهېږم
چې څه پرې وکړم څو د پاچا لور خپل غیر انساني کړه وړه پرېږدي.
هو! دا باید له هغه اشرافي او غیر انساني ژوند څخه بېله کړم.

نو یې د کوترې جامې واغوستې او د پاچا د لور پن ته ورغی، دومره
صبر یې وکړ چې شهزادګۍ له کوره راووته، راغله او د شیدو په
حوض ورننوته، حمید هم راغې د حوض پر غاړه، دا نادوني
په ماغ کېناست او وې ویل: ای ښکلې نجلۍ ته د یره
ښایسته یې زه په تا مین شوم، هیله کوم چې د شیدو له حوض څخه
راووزه څو دې ښه ننداره وکړم.

لنډه دا چې شهزادګۍ یې په توله کیسه خبره کړه او زیاته یې کړه
چې: شهزادګۍ ناروغه شوه. حمید یوه طبیب په نامه راغی او پاچا
ته یې وویل چې که چېرې شهزادګۍ (د مینې افسانه) واورې
روغه به شي. په ښارکې څوک د مینې په افسانه نه پوهېدل حمید
بیا د هماغه طبیب په څېره راغی پاچا ته یې وویل چې په پلانۍ غره کې
یو ځوان شپونکی شته چې (د مینې افسانه) یې ښه زده ده، او که چېرې پاچا
په خپله پسې ولاړ شي لور ته به یې راشي.))

ځوان شو لکه ښاغلی شو او د نجلۍ حورا نو سترګو ته یې وکتل، وې

خندل او وې ویل: ځو اې ښکلې نجلۍ، اې ګل ځانګې کمسه داسې وه،

پلار دې چې یوه ورځ بې سوې ځوندې له ګوره وشړلم، غره ته راغلی او

زه یې تا ته راوستم، اوس نو څه پکې وایې ؟

ګل ځانګه په ژړا شوه، له سترګو نه یې غټې غټې اوښکې را توې

شوې او وې ویل: حمیده وروسته تر دې به زه خپل شهزاده توب

د ګل له پاره هېر کړم.

زه نوره نو یوه شهزادګۍ نه یم، زه تا غواړم، زه اوس

پوهېږم چې څومره مې ستا مینې او محبت ته اړتیا درلوده،

ما له ځانه سره بوزه، غواړم چې د نورو په شان ژوند وکړم.

حمید وویل: ستا له پاره ډېره ګرانه ده چې د نورو په شان ژوند

وکړې، ځکه چې ته په ناز او په نعمت کې لویه شوې یې،

خو که ته وغواړې خواه مخواه به له خپل نوي ژوند سره هم بلده شې.

ګل ځانګې وویل: که له تا او نورو خلکو سره واوسم هر کار

به اسانه وي ... هیله کوم حمیده! ما له ځانه سره بوزه، حمیده

ګلځانګه یوازې مه پرېږده.

حمید د ګل ځانګې اوښکې پاکې کړې، د جیب څخه یې

یوه سنه را او وې ویل:

اوس ته سترګې پټې، راشه دا منه زما له لاسه واخله ، زه به وروسته بیا تا پسې راشم ، نور به د تل له پاره په تا ګران یم، زه به دې پوهېږم.

شهزادګۍ منه ترې واخسته او وې خوړه ، سترګې یې پرېوتې ، سترګې یې ورو ورو پټې شوې او په خواږه خوب ویده شوه .

حمید پاڅېد ګل‌څانګه یې په سمڅ بندي کړه او دباندې ولاړ پاچا ته یې خبر ورکړ چې لور دې ښه شوه ، تر درېو ورځو پورې دې څوک د ماڼۍ په‌شا او خوا کې نه ګرځي چې خوب یې پوره شي په څلورمه ورځ ورشئ او ویښه یې کړئ.

د پنځمې ورځې په سهار چې لمر لا نه ؤ راختلی ، حمید د کوترې په بڼه ګل‌څانګې ته راغی . بڼه یې بدله کړه ، یو سور ګل یې د هغې پزې ته ورنژدې کړ ، ګل‌څانګې سترګې وغړولې او موسکۍ شوه .

حمید وویل : ښه ویده شوې؟

ګل‌څانګې وویل : هو ښه خوږ خوب مې وکړ ، اوس مې د سره بیا یې ؟

حمید وویل : هو ! پاڅه په باغ کې ځان پرېمنځه چې ځو .

(۵)

لمر نوی راختلی ؤ چې د حوض پر غاړه د انار له ونې څخه دوه سپینې کوترې پورته شوې او مخ په لمر والوتې .

(پای)

PROPERTY OF ACKU 7341



# داطلاعاتو او کلتور وزارت

بیهقی کتاب خپرولو موسسه
به دیر ژر دمطالعی علاقه لرونکو
ته دالاندی آثار وړاندی کړی :

١ـ تفسیر شریف ۲۱ ټوک
«پښتو» .
۲ـ تفسیر شریف پارهٔ چهارم
«دری» .
۳ـ سپین .
٤ـ بزرگترین اختراعات و
اکتشافات .
٥ـ غرغشت یا گرشاسب نامه.
٦ـ گزیده اشعار بیدل .
۷ـ بازار های سر پوشیده
تاشقرغان .
۸ـ بی گورستان .
۹ـ هنرشاهنشاهی کوشانیان
۱۰ـ اصلاحات ارضی :
«پښتو ودری»
۱۱ـ مدیر مسوول طنز نویس
۱۲ـ جریده بلخ .

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

دولتی مطبعه